# اې هیواده!

# اې هیواده!

Download from:aghalibrary

حبیب الله رفیع

پښتو ټولنه

دپښتو ټولنې دخپرونو
پرله پسې نومره (۲۲۲)

دجمهوریت دخلورم
جشن پهویاړ

# ای هیواده !
# اې هیواده !

PROPERTY OF ACKU 5395

ویونکی

**حبیب الله رفیع**

خپروونکی

**دزیری جریدی مدیریت**

**پښتو ټولنه**

۱۳۵۶

Download from:aghalibrary

مهتمم

عبدالکریم پتنګ

خطاط

محمد روحا نی رویاء

دچاپ شمیر

۵۰۰ ټوکه

دولتی مطبعه

# ترون

دادگران هیواد په مینه کی
ویل شوی پاڼکی
دهیواد د هیواد پالو زامنو
له‌نا مه سره ترم!

په مینه
ح- رفیع

# رفیع او هیواد

رفیع شاعر دی، دشاعـــر ذوق، احساس اوژبه لری.

ادیب دی، دبیان خوند رنګـګ او کشش لری، او هنر مند دی، دهنر ښکلا، ځلا، نزاکت او لطافت لری.

هیواد! دانسا نیت دعظمت ځانګو ده، دتاریخ دافتخا راتو ځالـــه ده، دطبیعت دحسن، رنګینی، ګلونو، میوو

لومړی

خرگندو ښکلا گانو او پټو خزانـــو
ډکه لمنه ده، اود اولس دکار، زیار
محنت ،غیرت او سپیڅلي ژونــد
جونگړه ده.
نوچي دزفیع شخصیت او قلـــم
دهیواد دمیني او بیان سره دادبشعر
اوهنرپه‌یوه‌آیینه کي‌منعکس‌کیږي‌اود
«ای‌هیواده ،ای هیواده» په شکل‌کي
خرگندیږي ،نود هغي نه‌به دخلکو
څه هیلي وي، او لوستو نکي به یي
په‌کومه مینه لولي؟
زما یقین دی چي‌هر څوك به دی
کتاب کي دهیواد ددی زلمي شا عر
ملي درد اواحسا س او لسي هیلـي
او آرزو گاني، او ښکري غو ښتنـي
اوارمانونه، دده دشعر او هنر په‌جامه
کي لیدل غواړي .
اودامي هم یقین دی ،چي دهیواد
هربا شعوره وگړی او نـوی زلمي
به‌د خپلي پوهي شعور او ذوق پـه
اندازه ددی هینداره کي دخپل زړه‌درد
اود ذهن دددرك غذا بیا مومي، خـو
شرط دادی چي دده‌دالفاظو دښایست
پردی ته ځیر شي، اوپکي شاعـرد
دذهن او زړه دزخمونو او تاوونـــو
په‌سوز او ساز باندي پوه شي.
زه‌دای هیواده! ای هیواده! گرانواود
شعور خاوندانو لو ستونکو ته فقط
داویل غواړم چي که تاسو ددی‌کتاب

لوستلو وخت کی زما دا پورتنــــی
شرط ومنلو، نوهم به‌د رفیع دادب‌او
هنرپه خوند پوه شیء، هم په درد
هم‌به‌مو ددی کتاب داسی لو ستــل
درفیع په شعر اوفکر خوشحال‌کړی،
اوهم‌به مود هیواد ارما نونو اوهیلو
ته‌متوجه کړی .

زه خپله رفیع صاحب ډیر وخت
راهیسی پیژنم، اوهر کله چی دی
زمونږ دلوړ هیواد دخوږی خاوری‌په
لویه لمنه کی ډیرو ولولو، جذبواو
ارادو، بلکه لیو نتوب سره ددی‌وطن
دخدمت دپاره ملا تړلی راوتلی دی،
نوزما ورته ډیر پام دی، دده دفکـــر
اوعمل، کار اوزیار ،منډو، تر ړو،
غورځو، پرځو اود هغو دنتیجو نــه
ځان خبر ساتم، اودده کو ښښونــه
اوهلو ځلو ته خوشحا لیږم ځکـــه
چی‌زمونږ گران هیواد دژونداوادب
دخدمت‌ا په‌لاره کی ډیر کار کوی،دعا
کوم چی دغه میدان کی دی خدای ډیر
توفیق اوبرکت ورکړی، دده څخــه
هیله لرم، چی‌دی به خپل قلم دهیواد
دخدمت، خپل فکر دملت دمستقبل
اوخپل‌ادب، شعر او هنر داولس‌دسو
کالی دپاره دغه شان وقف لری، او
ددی کتاب دلوستونکو نه خوا ســت
کوم، چی دکتاب لو ستلو وخت کی
دهیواددشاعر دخوږو الفاظونه خوند

اخیستلو سره سره دی ددہ پههغه
ازمان اوولولو هم ځان پوه کړی، چی
ددی کتاب داشعـارو روح دی، اود
شاعر ددی غوښتنو سره دی زړه،
ذهن، آواز او اراده یوه کړی، چــی
وایی:

را خور یږه، را خور یږه دبهـار بنګلی نسیمه
دهیواد په هره برخه ،دوطن پههره سیمه
نوی ژو ند ته نــوی ساه شـــه

هله هله راشه، راشه

**اجمل خټک**

# سریزه

دپښتو ادب دتحول تاریخي سیر
څرگندوی ،چې ددغې ژبې په ادبي
تخلیقاتو کې دفورم او موضوع لـــه
پلوه نوې‌وا لی دشلم قرن له ابتداءنه
شروع کیږی، دغه مهال په ټـــول
افغانستان او پښتو نستان کـــې د
غربي امپریالیزم په ضد دوطن‌خواهی
رغونه پورته کیږی، ددغه نهضـــت
علم برداران د قلم او ادب په زورد
خلکو ویښولو،پوه کولو داجانبو په‌ضد
یو کولو،اود هیواد آزادی ته هڅوی
په‌افغانستان کې‌دغه نهضت دسراج

الاخبار (۱۹۱۱—۱۹۱۹ ع) په‌خپریدو
اوددغه اخبار دفکورمدیر محموطرزی
۱۸۶۵ —۱۹۳۳ په هڅو دمطبوعاتو
ساحې ته راووت، کله چې ددغه‌اخبار
په‌دریم‌کال د«ادبیات‌زبان ملی» ستون
پرانیستل شو، په دغه ستون کې‌د
اخبارله نشراتی رو حیې سره سم
ملي اووطني شعرو نه خپر یـــدل،

مرحوم‌غلام محی‌الدین افغان (۱۳۰۰
ش مر)عبدالسلام‌کاموی (۱۳۳٤ه،ق)
ملامحمد افغاني نویس ۱۳۰۵ ش‌مر
مولوی صالح محمد خان ۱۳۳۹ش‌مر
مرحوم مستغني (۱۳۱۲ ش‌مر)دوطن
پالنې اوآزادی غوښتنې شعرو نـــه
وویل ،آزادی ،اود غربي استعمارپه

ضد مفاهيمو زموږ په ادبياتو کې لاره پيداکړه ، البته دا بايد وويل شي، چې په پښتو قديم ادب کې داسې نمونې ډيرې، چې د پښتنو د آزادۍ غوښتنې د روحيې ښکارندوي کوي ، خو هغه ادبي نمونې د شلم قرن له دغه ډول ادبي ايجاداتو سره تو پير لري.

دغه راز په کوزه پښتو نخوا کې هم فکورو شاعرانو او اديبانو، هغوی چې د مبارزې په سنګر کې ولاړ وو، په خپل هنر کې د آزادۍ غوښتنې موضوع ته ځای ورکړ، دغه مهال د دغې ډلې اديبانو له اروپايي مترقي ادب سره اشنايي پيداکړه او د نورو ګاونډيو ژبو په ادبياتو کې يې هم مطالعه وکړه او نوی اسا ليب يې ټول په ادبياتو کې تطبيق کړل.

دغه جريان په پښتو ادب کې دوام وموند ، د وطن غوښتنې د مفاهيمو ترڅنګه ځينې نورموضوعګانې چې د خلکو د ژوند انځورول وو هم ادبياتو ته لار پيداکړه، او همدارنګه فورمي نوښتونه هم په ادبي نمونو کې وليدل شو، د موضوع له پلوه د ملي موضوعاتو ترڅنګه سياسي او اجتماعي موضوعات او داسې مسايل شعراو ادب ته لاره پيدا کړه ، چې د عام اولس له ژونده يې رنګ اخيست، زموږ په معاصر ادب کې که څه هم داسې شاعران شته ، چې اوس هم د خال وخطاو

زلفو اواوربل خبری په خپلو شعرو نوکی منعکسوی ،اود هغه ددو لسم قرن دشاعر په ځیر دخپلی معشوقی په‌غم کی مهجور دی ،خلك او اجتماع اوددغه عصر ایجابات یی کورټ‌لـه یاده ویستلی دی. مگر دابايد هیره‌نه شی، چی زموږ هغه شعراء چـــی‌د مفکوری خاوندان دی، هغوی خپـل هنرد خلکو اواجتماع په خدمت کی گوماری اود نوی زمانی غو ښتنی‌په خپلو منثورو او منظو مو لیکنو کی منعکسوی ،ددی ادبی نهضت سر لاری‌په لره او بره پښتو نخوا کی ډیر دی ،ددی رسا لی ویو نکـــی‌د پښتو نو میالی لیکوال ښاغلی حبیب الله رفیع هم‌ددی ډلی له پیر وانـــو څخه گا ڼه شی، دده پـــه شعری تخلیقاتو کی دوطنپا لنی اونشنلیزم جذبی په غور ځنگ دی، اود گران وطن په مینه کی داسی مهجور دی، چی‌تل یی‌دابادی او سو کا لـــی‌پـه هیله سندری وایی، اوپه وروستـه والی یی داسی ژاړی:

څوبه ستا په وچو دښتو اوښکی‌لونم
څوبه ستا په وروسته وا لی‌باندی‌ژاړم
څوبه ستا شو مو اوبو ته حیران‌گورم
څوبه تاته دپردیو متهی غواړم.

* * *

دغه رنگه دنورو ډیرو وطنی ترانو څرك دده په شعر کی موند لای شو ښاغلی رفیع‌د هیواد پا لنی دتپینگی روحیی ددرلودلو ترڅنگه‌منقد شاعر

هم دي، دخلګودردونه انځور وي او، اجتماعي او ټولنیزې نابرابرۍ تیـــاوي غندي، اوحتی کله کله دخپل طرز۔ تفکرسره سم په شعر کې دمحرومو خلکو اوداولس محرومو پرګنو ژوند هـم تمثیلوي ،که چیرې موږد ښاغلـي رفیع داشعارو ټولي مجموعې په دقت سره مطالعه کړو، له اجتماع او خلکو نه ګوښې موضوعات ډیر لږ پکې لیدل کیږي ،دغه رساله چې دښاغلي رفیع داشعارو په لړۍ کې پنځمـه مجموعه ده، هم دغه ډول ځانګړنې لري،د فورم او موضوع له پلــوه ابتکاري خواوې پکې لیدل کیږي،ده په دې رساله کې د شعر معمو لـــې قالبونه مات کړي ،اود نوي شعرپه چوکاټ کې یې د خپل زړه آواز خپلو خلکو ته وړاندې کړی دی، په دې رساله کې دفورمي نویوالي ترڅنګه دهیواد پالنې او نشنلیزم اوانتقاد مضامین هم په هغو عنعنوي تراکیبو کې نه دي اداشوي ،بلکه موضوع یې هم دادا دطرز له رویه نویوالی ښیي دلته موږ دنمونو له راوړو تیریږو اوتاسو خپلو لوستونکو ته د«ای هیواده!»د شعري مجموعې دلوستلو بلنه ورکو. زه د زیري دمسؤول مدیر په توګه

اتم

دالازمه بولم، چی دپښتو ټولنی له ځوان رئیس ښاغلی نوال روهی اودخپرونو دلوی مدیر ښاغلی ندوی معتمد نه مننه وکړم، چی ددغی رسالی دچاپ په برخه کی یی له ماسره مرسته کړی، اود ملی انقلابی شاعر استاد اجمل ختک نه مننه ترټولو دمخه ضروردی، ځکه چی دوی زموږ خواهش پر دغی رسالی دخه لیکلو په مورد کی ومانه.

**زلمی هیواد مل**
**دڅیړنی مسوول مدیر**

# دسریزی په ځای

زماگرانه هیواده ته‌ز ما مور، زما
کور او زماگوریی !زما غوښه، هډ،
پلی، وینی او زماد وجود ډیرواړه
واړه بخری ټول ستا دتن‌له ذروڅخه
جوړ شوی نو ځکه زما دوجود ذره،
ذره ستاله خوږی مینی څخه ډکه ده
اوزما ذکر او فکر ستاخوږ او مقدس
نوم دی ، ز ماسر ، تن،ځان اوهر،
هرڅه دی له تاجار شی!
زما دتن ذره، ذره ستا د مینی‌کور
اوزما دژوند لځه ـلځه ستا د مینی
یاد اوستاد یاد ترانه ده!
زه ستا په مینه‌کی داسی حال‌لرم
چی زما ژبه او قلم یی دانځو رولـو
جوگه‌نه دی، ستا د مینی داځو نغمی
چی ز ماقلم دکاغذ ترمخ پوری‌رسولی
ستا هغو زامنو ته چی‌له تاسره دزړه
مینه‌لری اوستا خدمت ته‌یی په مینه
او صداقت ملاتړ لی ده، وړاندی
کوم!

په مینه
حبیب الله رفیع
کابل ،بربڼ
۹ر۱۰ر۵٤

لسم مخ

# نخیزی

دهیواد دلو یشتی ــلویشنــی ــ
خاوری مینه می رگ ،رگ کی :

په نخا ده،
په گلها ده ،
په غورځنگ ده ،
نه سرپیږی .

* * *

څوچی‌زه‌یم،
څو چی ژوند دی ،
څو چی‌وینه می وی تن کی
په خدمت کی دوطن به ،
تل څو ځیږی‌ا و نخیږی!

کابل، پښتونستان وا ټ
۱۹ر۷ر۱۳۵۳

# دآسیا زړه

له غورځنګه یی لویدلی وینه نـــه‌ده
په‌دنیاکی‌چی وی زړه نوهمدا زړه‌دی
دآسیا د ژوند ون مزی پـــری تړلی
**دافغان بنکلی هیوا د آســیا زړه دی**

لا تر اوسه هیچا نه دی لــــــرزولی
په‌دی زړه کی دغیر ت وینه چلیږ ی
نه له چاشخه‌داریږی ، نه لـــــرزیږی
دغیرت میدا ن چی‌وینی لا مستیـــږی

* * *

دپر دو دککرو دا نی د ل شـــوی
اوړه شوی‌دی په‌دی زړه دآسیاکی
چی راغلـــی بیر ته‌نه دی ځنـــی‌تللی
دانی‌هـــم رو غی پاتیــــږی په آسیاکی؟

* * *

«آسیا تش کالبوت د خاورو اواوبو دی»
خودازړه دی وربښلی یی چی ســـــاده
د خپلواك ژوندون نعمت یی‌پری‌پیرزو کړ
په‌ربښتیا چی په دی زړه ژ وندی آسیـــــا ده!

کابل ،باغبا لامینه

۱۲ر۳ر۵۳

# ستانوم

هلته چې ژوند ځپاند، ځپانده غوړځي
هلته چې وینه په زړګوکي ګرځي
هلته د ژوند د سرې چینې په څنګ کې
هلته د وینو په رنګین غوړځنګ کې
د زړه په زړه کې په یوه ښکلې کرښه
ستانوم مې کښلی دی د زړه په پرښه
زړه په ټوپونو دی زما له مینې
غوړځنګ د وینې مې دی ستا له مینې
وطنه! څو چې زه څو زړه وي زما!
ستا ښکلی نوم به د زړه، زړه وي زما

* * *

زړه به مې هله شي کرار واوره!
چې ستانوم وسپاري د تا په خاوره!

کابل
۱۳۵٤ر۷ر۹

# دوطن کور

غوبنی شی ، هېو کی شی، راجمع شی، بدن شی
وینه شـــــی، ارواشی ،سره وخوځیږی تن شــی
عقل شی، احساس شی، د محیطادی یی وروزی
زېږه شی، کور د مینی شی، میشته پکی وطن شی!

۸ر۵ر۱۳۵۱

# دوطن ترانه

گران راته تر هرڅه نه لــــــوی افغانستان دی
دازما ایمان دی، کله بد لیدلی شـــی
کله بدلیدلی شی، دا زما ایمـــان دی
دازما ایمان دی ، کله بدلیدلی شــــــی
کله بدلیدلی شی!

زړه مې کور د مینې دی، ځای پکې وطن لري
تواله به تري زار کړمه ، وينه مې چې تن لري
زار مې په هر وخت ترينه، مال اوسر اوځان دی
دازما ايمان دی، کله بـدليدلی شي ،
کله بدليدلی شي!

* * *

موټې مې دخاورې به، ورپه جهان نه کړمه
څوك چې ورته بد گوری ، خاوري بې په خوله کړ مه
هر خاین ، دښمن ددې، خاوری دويران دی
دازما ايمان دی، کله بـدليدلی شي ،
کله بدليدلی شي!

* * *

کړې په تاريخ کې يې، ژوند دسرلوړی دی تل
نې دی وړی ژغ دچا، کور د آزا دی دی تـــــل
دی« رفيعه!» تل رفيع، لوړ يې ملی شان دی
دازما ايمان دی، کله بـدليدلی شي ،
کله بدليدلی شي!

۲٤ر۱ر۱۳٥٤

# دبیرغ ترانه

رپیږه! رپیږه! بیر غه دافغان !
تل لوړ غاړه اوسه! ښبسان زموږدشمان!
رپیږه! رپیږه ! بیرغه دافغان!

* * *

ددښمن زړه په رپیدو شی
رپیږی چی ته !

دافغان زړه په‌غوړېدو شی
غوړېږی چی‌ته !
ته‌سیوری مودسریی ، ستاسیوری‌موا مان!
رپیږه! رپیږه! بیرغه دافغان!

* * *

دتورو شپو دتیریدلو
سهار ته‌لری!
دسربښندو ، سمسور یدلو
یادگار ته‌لری !
ژوندی دی په هررنگ‌کی، زموږدژوند داستان!
رپیږه ! رپیږه ! بیرغه دافغان !

* * *

تر« خوچی پاتی یو افغان وی»
رپیږی به‌ته!
تر«خو چی داجهان و دان وی»
رپیږی به‌ته!
«رفیع» وایی رفیع یی، رفیع دی‌ساتو شان!
رپیږه ! رپیږه!بیرغه دافغان!
تل لوړ غاړه اوسه! نښان زموږدشان!
رپیږه ! رپیږه!بیرغه دافغان!

۱۷ر۲ر۵۳

# ټول

گرانه‌وطنه !ستا خوږی مینـــی،،ستا پاکی مینی!
را تـه گران‌کړی دنړی وطن دوستان دی ټول!
چی‌په دنیاکی یو ویښته د هیوادپالو کوږ شی
بیا می‌پـــه‌زړه کی ټول غمونه دجهان دی ټول!

۱۴ر۸ر۱۳۵۴

# اې هېواده!
# اې هېواده..

اى هيواده !اى هيوا ده !
اىز ما خوږه‌هيوا ده !
چې ژوند ون ببنسى تل ماته
داد تابنبكلى هواده!

ای هیواده! ای هیواده!
ای‌ز ما خوږه‌هیــواد ه!
* * *
ستا دلویو – لویو غرو نو
ستاد لوړو – لوړو څو کو
سر لو ړی می‌سر لوړی‌ده
او لوړ تیامی یی‌لوړتیا ده !
ای هیوا ده! ای هیوا ده!
ای‌ز ما خوږه هیــوا ده!
* * *
که «خیبر» دی، که«سپین‌غر»دی
که »بابا»، که «هندو کښ» دی
که «سبزك» دی ، که «کوږك»دی
هر، هریو جنګی کلا ده
ای هیواده ! ای هیوا ده!
ای ز ما خوږه هیوا ده !
* * *
ستا ځپی، ځپی سیندو نه
دی‌ز ما تیر غورځنــــګونه
دژوندو ن څپاند بهیر دی
د ملـــی غرور نښا ده !
ای هیوا ده! ای هیوا ده!
ای‌ز ما خوږه هیــوا ده!
* * *
که «هیلمند»، که «اباسیــن» دی
که آمو که هریرو د دی !
که «کوکچه» ، که«فراه رود» دی
ددی ټولو یوه وینا ده :
ای هیواده ! ای هیوا ده!
ای ز ما خوږه هیوا ده !


* * *

ترانی مـــی د میـــهرانی
پەلوڕ غنۆ کی را تە وایی
کەد خمکی خرو بی دی
کە د هسك لوڕه تنـــادە
ای هیوادە ! ای هیوا دە!
ای ز ما خوږه هیوا دە !

* * *

تە زانگو ز ما د«پلار» یی!
ادیره می د«بابا» یـــی !
دتالـــور ، دتابچـــی دە
کە می«مور» دە، کە می «نیا» دە
ای هیوادە! ای هیوادە!
ای‌ز ما خوږه هیـــوا دە!

* * *

تەزما «مینە»او «کور» یـــی
اوزه ستا دناز « بچـــی» یم
زه دتا پە غیږ کی ښنا دیم
تەز ما پە زیار آبـــا دە !
ای هیوادە! ای هیوادە!
ای‌ز ما خوږه هیـــوا دە!

* * *

چی راکړی پە شیدو کی
ماتـــە تادە خپلە مینـــە
دغە مینە ستا پـــە ما دە
دغە مینەز ما ســـتا دە !
ای هیوادە ! ای هیوادە!
ای‌ز ما خـــوږه هیـــوادە !

* * *

زه دتاله شتو نه شته یم
کەتەنە واى زه به نەوم
ز ماوینـــه له تاجار شه
چی زما وینــه له تا ده !
ای هیواده ! ای هیواده!
ای‌ز ما خــوږه هیــواده !

* * *

دښمنان به دی کړم خا وری
له دوستانو دی دوستی‌کړم
ستا له مینی بی غم مەشم
خو می ژوند دی ، خومی‌ساده
ای هیواده! ای هیوا ده !
ای‌ز ما خوږه هــیوا ده !

* * *

زه «رفیع» ستا په رفعت یم
زه دتاپه تانــدی تاندیم
رنگینــی ز ما دشـــعر
ستاله رنگ،ستاله‌ښکلا ده!
ای هیواده! ای هیوا ده !
ای‌ز ما خوږه هــیوا ده !

کابل، محمد جانخان واټ
۲۹ر٤ر٥٤

# کارګره!

ته متهی، ته وزرونه ته‌قوت می دملت یی !
لوړوا لی‌دوطن‌می ستا په زیارشی ، ستا په‌کارشی
خولی‌دی‌دتندی ترمرغلرو راتــــه‌ګرانی
توین ی چی په څمکه دو طن د غاړی هارشی

* * *

راباسی له سپیرو خاورو سر کی،سرکی لالونه
تنهاکی‌دلاسونو دی لالونه را ته ښکار ی!
اعجازلری ، جادو لری ،سحاری‌دی‌ستاګوتی
تویی‌یکی دلویو غرونو زړونه راته‌ښکاری!

* * *

لغت‌د نامکن دی په قاموس‌دژوندکی نشته
دښمن‌یی دخ نهونو، دسدونو، بندیزونـــو
هم هسک ته جوړولی شی‌دمتوپه‌زور لاره
هم سپینه‌لار ایستلی شی په‌زړونو کی‌دغرونو!

* * *

چی خاوری زرکو لی شـــی، ددی‌هنر څښتن‌یی
چی‌زریی دپښو خاوری‌وی‌په‌دی‌هنرلاس‌بره!
چی‌ژوند ته نوی رنګ شی،نوی‌خوندشی ورکولی
ددی‌قدرت خاوند یی ای کارګره، متوره!
۱۰ر۲ر۱۳۵۳

# سندري

چې تل زيار باسي ، تل کارکړي
چې‌يې ژوند په کړاو ون دي
چې ښکيل شوی ،زبيښل شوی
چې‌يې برخه‌زړه چاودون دي
زه ريشې يم ددې خلکـــــو
زه ددوی سنـــــدر ی‌وايم
چې څښتن دی ددې خاوری
د هغــوی سندرې وايـــم

* * *

چې‌یې لاس دې تـل تنهاکـــې
چې تنـدې یې تل خو لې دې
چې‌یې و چې دې تل شونډې
چې‌یې سپورې مدا م خو لې‌دې
زه ددې او لس بچـــې‌یم
زه ددوی سندرې وایم
چې زا من ددې هیواد دې
دهغـوی سندرې وا یم

* * *

چې سرونه یې داو کـړی
د خپل گران هیوا دپاره
چې ځانونه یې جار کړي
داو لس په‌پاکـــــه لاره
یم ددې تور زنو بیلگـــه
زه ددوی سندرې وایـــم
چې‌یې سرنه دي ساتلـــې
د هغـوی سندرې وایـــم

* * *

زه ریشمې یم ددې خلکـــو
چې جوړ کړې یې اولس‌دې
چې څښتن دې د دې خاورې
هیوا د پالې‌ځو یې وس دې
یم پایځوړ ددې میړو نـو
زه ددوی سندرې وایـــم
چې‌په ویاړ دې اوسیـدلې
د هغوی سندرې وایـــم

* * *

۱۳۵۱ر۸ر۲۲

# دوطن سندرې

هر ، هرخوك د خپل وطن پهغيرتكي پايى
هرشاعر د خپل وطن سندرى وايـــى
پهرنگو په نير نگو يى دو كـــهنشى !
څوك په يورنگ ،څوك پهبل رنگ كىيى ستايـــى !
۱ر۱۰ر۱۳۵٤

# دبری ساڼی

اسارت ملك ټيټوی تحت الثری ته
خپلواکــی یــی لوړ وی شی ثــریا تــه
چی مو ملك له اسارتـــه«امان»وموند
د«بری ماڼی» مو لوړه شوه فضا تــه

کابل، پروان مینه
۳۱ر ۲ر ۱۳۵۳

# دژوندون سندری

ځوانه پاخه !
لیچی نغاړه!
ته چی غواړی:

دغه کار بی مینی نشی
تاته ستر گی داو لس دی
د هیواد په مینه پایه!
د ملت دردونه بنیه!
دو گړو قو ت ستایه!
ته هم پاخیږه شاعره !
د ژوندون سندری وایه!

پر مختیا ،لوړتیا د مینی!

کابل، انصاری واټ، دولتی مطبعه
د۱۳۵۳ کال لړم

# نسیم ته

هله ! هله! راشه! راشه !
نوی ژ وند ته، نوی ساشه!
* * *
یوئخل بیا دشنو غوتیـــو
پەسرو شونەو کیموسکاشه!

د عطـــرونو لـــه جامونو
خوشبو یی هره‌خوا پاشه!
په باغونو کی ښایست شه!
په بید یاؤ کی ښکلا شه !
دگلونو پـــه سکوت‌کی
یوه مستــه شـــان نخا شه!
د غا ټوی دداغ ملهم شه !
دنر گس د جام دوا شـــه!
د چمن خنـــی ږو منځ‌کړه!
دشبنـــم سره ژړا شـــه !
راخوریږه !راخوریږه!دبهارښکلیه‌نسیمه !
د هیواد په هره برخه، دو طن‌په‌هره سیمه !
نوی ژوندته، نوی ساشه!
هله! هله !راشه ! راشه!
* * *
له نیستی نه رابهر شـــه!
دغو ټی گریوا ن پاره کړه !
د هستی دنیا ته راشـــه !
ځان دگل رنگ کی‌ښکاره‌کړه!
د مستیو بازار تو د کړه !
جوړه نـــوی ننداره کـــړه!
پسر لی ښکلی رنگین کـــړه!
بدرنگی په تراره کره!
د موسم ناوی سینگار کړه!
دښکلا یـــی نظاره کـــړه!
دغمونو کور سپیـــره کړه !
تللی عیش را دو باره کړه!
را خوریږه! را خوریږه !دبـــهارښکلیه نسیمه !
د هیواد په هره برخه، دو طـــن په هره سیمه !
نوی ژوند ته، نوی‌ساشه!
هله! هله! راشه ! راشه !

غر اوسمه سره سم کړه !
له‌یو مخه پری ورسم شه!
بخملی کړه ټولی خواوی !
ښکلاو ویشه حاتم شه !
دسیلو دسیلید لیو
دټپو په‌سر ملهم شه!
دتیر وا غزو په‌خنگ کی
دپستو گلو همدم شه!
تازگی هر لور خوره کړه !
نوی ژوند شه! نوی دم شه!
د هیواد د مور په غیږ کی
مینه ، مینه شه خرم شه!
را خوریږه! را خوریږه! دبهار
ښکلیه نسیمه !
د هیواد په هره برخه، دو طن
په هره سیمه !
نوی ژوند ته، نوی ساشه!
هله! هله! راشه ! راشه !

لغمان ،علی خیل
۲۷ر۱۱ر۱۳۵۳

PROPERTY OF ACKU 5395

# سندرکي

گلان خاندی ،
پانهی ناخی ،
دوبز مو پاستە آهنگ‌تە ،
کویلی وایی سندری ،
دباران لەرنو ثاخکو، دنرگس پیالەدە ڤکە

دعطرو وږم خوریــږی ،
دشبنـــم وینه چلیږی ،
ـ دګلونو په رنګو کی ،
ـ درنګونو په رګو کی !
«دپسرلی ښکلو نکی بیاکــره ،(هری خوانه) سینګارونه»
* * *

د هیواد دآسمان څکو ـ
غرونو څوکو ، په سرکړی ـ
سپین ټیکری دسپینو واورو،
پری ټو مبلی یی ګلونــه،
پری ګنــډلی یی سرونه :
ـد«وږو»، «وښتی» او«ښښتی»
ـ د«سو ما» دشـــنو تارو نو!
پسو للی یی ده ناوی د موسم،په پسولونو.
* * *

دسیندو له غــورځنګو نو ،
دځــړ و بیو له ټوپونو،
د چینـــو لهسندر کــو ،
دبارا ن له شرنګهــاره ،
دز رکانـــولهکتها ره...
داسی ښکاری، داسی بریښی ـ
چی رابو لی نوی ژوند تــه:
دزلمو پیاوړی متی، دښځمنـــــــوګړندی پلونه!

کابل، باغبالا مینه
۱۳۵۳ر۱۲ر۲۹

# نوتكى

دباغوان دگهوونو پەبنا خو كى
ورته بنكارى دسبادميوى نبنى،
ورتەبريبنى دسپين‌زيرى‌دزيـــــاربيلگى
پكى وينـــى د هيواددگتى وتى.

څرگندیږي پکې ده ته :
- دانارو سره لالو نه،
- دسر کیو سري ځو مبکې ،
- د مڼو بنګلې مخو نه،
-دبا دا مو قوي زړی ،
- دآلو د خو لي‌خوندونه ،
- دنارنج د خوند زبیښنې ،
- دمالټې - خوارږه ګوټونه ...
* * *
پکې ګوري سر له اوسه :
شربتونه ګیلاسونه، ګیلاسو نه‌شربتونه ،
د حیات داوبو څا څکې،
د ژوند و ن ددوا م اړی ،
د بدن ضرور تونه ،
ژوند ببنس ویټامینونه .
نو:
نن‌څکه پسرلی دی ،چراو کړی‌هره خواکی :
دغوټیو په ټومبلو، دنوتکوور بلونه.
او:
نن څکه پسر لی دی، اچولی سرترسره:
لوخووزنو ته په غاړه :
«دګلونو ا میلونه»!
کابل، بربنې
۱۷ر۱ر۵٤

# هینداره

دژور سیند په ځنډه، ځنډه تلمه
یاغی اوبو یی بادول څګونه
لکه خونی ز مری غرمباریی کاوه
په سنګرونو یی وهل ټوپونه

ډیر قهریدلی غوسمیدلی را ته
دایل کیدلو روگو دریی نهؤ
همداسی مســـت روا ن ؤ

* * *

دلو ړی دبنتی لورته سم چیشوم
وه لویه دبنته خوویجاړه وه
لکه ړانجه پسته مسته یی خاوره
خوپرو ته هسی شاړه واړه‌وه
دو حشی بوټو لوی لبنکر پکیؤ
ړری الوتل د حسرتو بادونه
اوبادو لی یی په سر خاور ی.

* * *

دنظر کچ په‌لویه دبنته کیستومانه‌شو
هر خوا کتل‌میسر او بریی نهؤ
خو هلته لیری دسیند بره خواکی
راته‌یوه توره هیولا ښکاره شوه
دلمر په‌وړانگو کی‌یی سترگـــوسترگکونه و هل
بس ور روان شومه !

* * *

چی تلمه ،تلمه ، تلمه ورسیدم
گورم یو لوی ماشین دی
څو کاریگر ترینه‌چاپیره‌گرځی
ددی یاغی اوبو ځه بند تړی
چی مستی پریږ دی او آرا میشی
دلویی دبنتی په‌لوی زړه کی رازوانی شی
مانداره کو له .

* * *

په ننداره کې د ماشین یوه کوچنۍ هینداره ــ
راته ښکاره شوه چې ددښتې لور ته ځیره وه ،
زه ورته ځیر شو م
یکې ښکاره شوه راته لویه دښته!
شنه باغونه ،
هره خوا شنه فصلونه ،
د گلو ډک بڼونه ،
کورونه لو ړ برجونه .
او هلته ځنگ کې دگودر غاړې ته
مینې مینې ته په سر کتارول گلونه!

۲۴ر۱ر۱۳۵٤

# د کندهار سپوږمۍ

دسپوږ مى د ځيرو سترگو په‌رڼا كى
راته ښكارى ستادحسن انځورونه
پكى برېښى انعكاس ستا دښكلاؤ
پكى گو رم ستا دشنو يا غوخالونه

سپند چې ګورمه، دښنو او بو په غېږ کې
سپوږمۍ لوخه پو خه لا مبې او نخېږي
دشينکي آسمان زامن، لونې يې مست کړل
رو نه ستوري چار چاپيره تـــرې تاوېږي

* * *

ژوند خپاند ستا دسپند ونو په ځپو کې
شړ هارېي دژوند زيري دمرګ، مرګ دی
خواره کړي ونو يو پربل ځانګــو نه
سره غېږ په غېږ په مينه ګل او برګ دی

* * *

دپسرلي ورمې په غېږ کې دناز ژوند کړي
که ناز بو دی ، که نرګس، که ياسمن دی
شنه باغونه، شنه بڼونه، شنـــــه سپندونه
انځور شوی په ګلو نو ښين چمن دی

* * *

دباغونو د شنو ونو په ښا خـــوکې
دسپوږمۍ پيغلو تې کاندي پـــټ پټونی
کله لوخه رانبکاره شي، بې پردې شي
کله واغوندي دشنو پاڼــــــوپړونی

* * *

ستاځواني شي ځوا نو لي زاړه زړونه
د زړو ځوانو ميلې يې نمونې دی
ستا د زوړ باغوان په مټوکې دازوردی
چې روزلې يې دميو پيمانـــې ـ دی

* * *

دا منمه چې ته زوړ يې خو تل ځوان يې
اې زماد ګران وطن تاريخـــــې ښاره!
دا فغـــان د مليـــت پخـــــه سنګره
د ژ وندو ن له ځپـــو ډکـــــه کند هاره!

* * *

کند هار، د محمو دهوتـــــک ښوونځې
۲ ر ۳ ر ۱۳۵٤

# هیلمند ته

ای هلمنده! څپانده سینده!
د هیلمند دسیمی ژ ونده!
زارشم ستا له ګړ ندی یونه!
ای ددی سیمی ژ وندونه !
ای هیلمنده ! ای هیلمنده !

ای هیلمند ښکلانده سینده!
د هیلمند دسیمی ژ ونده !
* * *

ای هیلمنده ! ای هیلمنده !
تاکی هیلی موندی کیږی!
تاته زړونه هیله من دی !
ستا ښکلو کی اوښتو ن دی !
په اوبو کی دی ژوندو ن دی!
ته د مړو دښتو مسیح یی!
ای هیلمنده ! ای هیلمنده !
ای هیلمنده! ښکلا ند سینده!
د هیلمند دسیمی ژ ونده !
* * *

بس دی ، بس دی — چتېك مه څه !
نور په وروشه لږ راتم شه!
یاغیتوب نور په کار نه دی
ایل شه !ایل شه !
نورنو ایل شه!
په دی تږو دښتو سم شه!
ورته وښیه ژ وندو ن !
شنه کښتونه راز رغون کړه!
کړه هوسا د ملك وګړی !
تخریب ورکړه په سمو ن !
ای هیلمنده! ای هیلمنده!
ای هیلمند !ښکلانده سینده!
د هیلمند دسیمی ژوند ه!

**هیلمند**
**۶-۳- ۱۳۵٤**

# د هیلمند د سیند پر غاړه

د« لښکري بازار » له ورانو کنډوا لو نه گورم
د تاریخي «هیلمند» د سیند څنګ، څنګ گامونه
چې مچو لې به یې پښې د دنگو، د نگو ماڼو
را یادوي هغه زاړه او پخوانــــــــي وختونه

هیلمند بهیږی غږوی د ژ وندون مستی نغمی
پکی سندری اویادونه دپـرو نکوی
دحر کت په ژبه وایی چی سکون مرگ دی
څوک چی د ژوند ارزو پهزړه کی لری یون کوی !
* * *

د خاورو کوټو ته دگوتو اشاروتی وایی :
«دوام کړو لی هغه ژوندشی چـی غورځنگ لری
لوړی ماڼی وی ترینه داسـ ـــی کنډوالی جوړی شی
داځای پهځای لوړید نگ بیرتهپریو تنگ لری!»
* * *

دلمر لویدو پهلور پهتلو ،تلو کی دلمرسترگه
سربڼوروی سیند ته، تائیدیی کوی څل ورکوی
څوک چی په ژوند کی پهغورځنگ او اوړ یدنگ مین وی
زیری د ژوند، زیری د مړینی داځل ورکوی
* * *

د«لښکری بازار » لهورانو کنډوالو نه گورم
دتاوده لمرستر گه ددښتو پــه اوږ دو تیریږی
چی هیلمند سیند ژوند وربښلی او ښبی یی ورته
د هغی دښتی په لمن کی نهامیږی، لویږی !
* * *

هیلمند ، لښکر گاه
۷ر۳ ر۱۳٥٤

# د بست په ویرانو کې

د هیلمند دسیند پر غاړه!
لوړه غاړه یې ولاړ ه!
ای د «بیس» د کلا دړی
ددی ځای تاریخي‌و یاړه!

* * *

ښیې ستالو ړی ژوری
د ژوندو ن لری او بری
راته کړی د حال په ژبـــه
ستا «رواق» زړی خبری!
* * *

ځښته ، ځښته دی داستان دی
پکی نغښتی اوږ د بیان دی
ستا چپه ځوانی تری ښکاری
ترجمان دی دلوړشـــان دی !
* * *

دلوړ «کوټ» پښو کی دی ځښې
د«ختکر» دکمال نښې
د«او لس» د«هنر» بیلګی
د« وګړو» د زړه خوښې!
* * *

منم ړنګی دی « مانۍ» دی
لوټی ــلوټی و دانی دی
کنډوا لی دی هم ورانیږی
خو کیسی دی دځوانی دی :
* * *

لادی ښنګ کی راته ښکاری
زماتر سترګو ،سترګو کیږی
دلوړ کور غمجنه «مور» ده
د«زوی» مخه کی ژړیږی
* * *

لار ارسی می غــوږ و ته
داسونو خر پهار ی
«مرور شهزا ده» وزی
«مور» یی دلته‌لا ره څار ی
* * *

لاغو غا په ښار کی اوزم
د«شپیتو بړیخو» یو ن دی
په شایست (۱) پسی کړاودی
په‌لیدو پسی بیلتو ن دی
* * *
لا دتاګو نځی تندی کی
ستاسړی او تودی وینم
د«رابیا» د پیکی وړ ل کی
د ګلو نـــو کو دی وینم!
* * *
ستا سینه می سینما شوه
فلم و خو ړل څــــرخونه
ټکی ډیری صحنی راغلی
ستا د عمر له پرونه !
* * *
چی می‌و مبتلی سترګی
ستاپه سیوری کی ګرځیږم
سوځوونکی لمر نه پټ یم
«کو ټګی» ته دی در خیژم!
* * *
ګورم ستا ګونځی تندی کی
د«ختبګر» دکمال نښی!
د«او لس» د« هنر» بیلګی
د« کاشو» په ښــه ښښی !

هیلمند، د بست رواق
۱۳۵۴ر۳ر۹

---

(۱) شایست ـ عیش ـ راحت.

# دلاړام

«دلارم» می زړه (نارام) کا
راته یا دکا تیر و ختونه
د«بیبو» د زړه او رونه
د«ښادی» ډیر ار مانو نـــــه

د«غبر گولی» په گرمی کی
را یا دیبړی هغه ستړی
چی د مینی په دنیا کی
دی «بنیادی» ترسره کړ یی
* * *

داد خاورو خړ دیوال کی
چی پر تی دی خاوری کوټی
دا خاورین «قبرونه» نه دی
پکی پټی دی «سکروټی»

* * *

دلته مړی دی «ځوانی هیلی»
دتو دی مینی «مړستون» دی
دا د ژوند د «ناکا میو»
پس له مرگه «پیوستو ن» دی
* * *

ځوانیموگو ار مانو نو
دلته کړی خه «آرام» دی
له «نارام» ژونده «آرام» شول
ځکه نوم یی «دلارام» دی
* * *

چی ددوی هیلی شوی «خشی»
اوس تری هیلی «زرغونیږی»
هیله من ورته را درو می
ا میدونه یی سر کیږی
* * *

«سره گلونه» په «سرو دښتو»
زرغونیږی ددوی یا دکی
ددوی رسم ژوندی ساتی
په دی بر خه د هیواد کی
* * *

دازیارت دی د مینو
وصل ځای دمهجوا رانو
دایا دګار دز مانو دی
د«رواج» د« مقتولانو »

* * *

«دلارام» می زړه «نارام» کا
راته یا دګا تیرو ختونه
د«بیبو» دزړه اورونه
د«ښادی» ډیر ار ما نونه !

دلارام
دښادی اوبیبو قبرونه
۱۱ر۳ر۱۳۵٤

# دطبیعت غیږ

دواړو خواؤ ته خاورین او ببـــرغرونه
څنګ په څنګ سره پرا ته لکه‌اوښان دی
ځای په ځای رنې اوبـــه تـــــری‌راشنیږی
پری مخان د شنیلیو چی روښان‌دی
* * *

ته‌بوایی پسو لی چـــو ړ و ی ناوی
سږتر پایه پری پراته دی شنه‌شالونه
دنرو اوبو جړو بی یی شلشلـی‌دی
پکی ښکاری ځای په ځای ښایسته‌گلونه

* * *

لاندی سپین وړکی خو ړ پکـــی ښهیږی
لږ راپاس تری سپینه لار د موټروده
داسی ښکاری چی د غرونو شنه‌لمن یی
جوړه کړی په‌لیسو او په چرموده

* * *

شنه للمی اوشنی مرغی‌یی دی په‌ډډو
دوگړو او ځـاروو درو زی دام‌دی
دسپین زیری بزگر لیچی بیـــاځوانی کړی
دتیزتگی اسپـی بیا ئې پکی آرام‌دی

* * *

پاس په‌شنه آسمان کی وریځودی‌جوړ کړی
سپین گلونه د مالو چو په سیالی‌کی
په‌سرك کی د مالوچو پیتهـــــی‌باردی
چی را درو می له« مرغابه» په‌لاری‌کی

* * *

موټر ځی په د مه، دمه‌ورو ، وروښوری
سایی لنډه، لنډه کیږی کږ لیچـوکی
په تقدیر باندی ځان سپـــــاری‌وړاندی درو می
په پیچومو، په‌پاڼو نو په شیلـوکی

* * *

په‌شاکړی یی د ډیرو هیلـــــوپیتهی
پرله نغاړ ی د«با دغیس» په‌لوری‌لاره
څوك کوروته رسوی او څوك‌هدف‌ته
که‌د ژوند دانه وه ،رسی به‌تـرښاره

* * *

داوبو له خنگه بيل په شيله سم‌شو
د«سپزك» په غابنی سر بنوروی، خيژی
دسرو او بنو قافلی پــه«سربند»تللی
اوس دسره موټر سيالی هم پوره‌کيږی
* * *

د«سر بند» له سره او ږی دغره‌سردی
ترينه لاندی دشمين پوښبوغروکړی‌دی
شنه ښښتر پکی په لــــوړه غاړه‌اوسی
دځنگل ونی کتار لړی ، لــــړی‌دی
* * *

له لوړ سره موټر ښکته ، ښکته‌کيږی
لارښی ده کږ ليچونــــــه دی رادرو می
ته به وايی چی له پاڼــه به اوس‌لويږی
خوبچ کيږی ، بلــدی دی ، لاره‌مومی
* * *

يخ شمال له سپينو واورو شوراپورته
په «غبرگو لی» شوی‌را غبر گی‌د«کب» ورځی
شنه ځنگلونه، سپينی واوری‌پکی‌خوند کړی
پاس په شنه آسمان کی زيــب‌کړی‌سپينی وريځی
* * *

د«لامان» په‌شنو لمنو کی ژوندون‌دی
طبيعت ور تـــه ښښلی لو ړ سرونه
دژړو كلا ؤښښی يی غو نــډه‌ی‌دی
ده گينــه يی د شنوو نو ا ميلـــونه
* * *

سترې کړی د ښآ رو نو تصنـــيـــم
ځان می بيا مونده په غيږ دطبيعت‌کی
ای «رفيعه!» عجب خوند، عجيبــه‌كيف دی
د هيواد دلوړو غرونو په رفعت‌کی!
* * *

لامان، دباغيس لار
۱۷ر۳ر٥٤

# وطنه !

PROPERTY OF ACKU 5395

ځو به ستا په وچو دښتو اوښکې لونم!
ځو به ستا په وروسته والي باندې ژاړم!
ځو به ستا شو مو او بو ته حيران ګورم!
ځو به تا ته د پر ديو متهـــــــې غواړم!
ته جنت يې خود کار په انتظـــاريې!
زه به تاد جنت سيال کړم ليچـــې نغاړم!
ته د پانګو ، شتمنيو خزانه يـــې!
ته مې وياړيې، په ماګرا ن يې په تاوياړم!
ستا په سر چې هوسا خلك شي وطنه!
ستا په غيږ کې به هوسا شم کـــه بيا ولاړم!

هرات، د مومند حمام
۲۰ر۳ر۵٤

# د هرات څلی

د هرات له زړو څلیو داسی اورم:
«چی یووخت موږ دجهان‌دننداری‌وو
سر لوړی موده د علم له مرکزه،
د هنر په گوتو جوړی مناری وو!

* * *

خاطری زموږ دویاړ او افتخار دی
موږ لیدلی دی دعلم مجلسونه
موږ دجهل تور دیوان دی تښتولی
موږه وو دعلم او پوهې سنگرونه
* * *

دتیاری په زړه مو ښخ کړل خنجرونه
موږ یادگار یو درناؤ، دلمرونو
موږ نښان دلویو، لویو مدرسو یو
موږ مرکز یو دپوهنو دعلمونو
* * *

زموږ ښکلی کی به «خامی» «جامی» پخی کړی
عالمان به تولیدل زموږ په خواکی
دادب او د هنر بازار به تو دؤ
وو خوندونه به په شعر، په ویناکی
* * *

موږ تول ژوند په لوړه غاړه دی تیر کړی
سر لوړی مو ده بښلی خپل هیوادته
علم، پوهه اوسواد مودی بښلی
هیله من مو رسولی دی خپل مرادته
* * *

موږ زړی یو ، که مړی هم شو «تل ژوندی» یو
معنوی ژوند مو پری ایښی دی جهان ته
بی له علمه ژوند که ژوندوی هم لوی مرگ دی
اساسی ژوند موورکړی دی انسان ته !»
* * *

له نیم ژواندو منا رو نه داسی اورم:
«موږ د علم او دپوهې ا داری یو!
سر لوړی مو ده د علم له مرکزه
د هنر په گوتو جوړی مناری یو!»

هرات
۲۶ر۳ر۱۳٥٤